مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوار سنگروال

۲۰۲۶/۰۱/۱۷

# نکلونو کې تاریخ

## ۵مه کیسه

## کیسې پسې کیسه

## ۲برخه

د ډیورنډ په تړاو د بهرنیانو څرګندونې ،

۱- پخپله ډیورنډ پخپل کتاب د ډیورنډ بیګرافي کې لیکلی دي بیلي شوې سیمې د کنترول سیمې دي( ۲۱۷ مخ)

۲- جی بی تیت هم په خپل کتاب Kingdom of Afghanistan کې کښلی دي، دغه کرښه یوازې دامیردواک قلمرو په ګوته کوي ، کوم رسمیت نه لري.

۳- ویلیم بارټن او توماس هولدوک د جی بی تیت د خبرو پخلې کړیدی او سایکس په History of Afghanistanنومي کتاب کې کې لیکلی دي ، ددې کرښې موخه دا نه وه چې د هند پوله را وړاندې شي ...

« ایکولی »او «فرانسوا » د نړیوالو قوانینو له مخې کاري ،کله چې جغرافیه بدلون مومي،تیر موافقه لیکونه هم خپل قانوني ارزښت له لاسه ورکوي.

۴- د ویانا په نړیوال کنفرانس کې چې په ۱۹۶۹ کال جوړ شو په ۵۱ ماده کې راغلي دي، هغه تړونونه چې د زورور او کمزورې، استعمار او مستعمره هیوادونو ترمینځ لاسلیک شویدي حقوقي ارزښت نه لري.

۵- د ملګرو ملتو د منشور په ۵۳ ماده کې د دې خبرې پخلې شویدی. د پاکستان ریفرانډم جعلي و او له بلې خوا دغه خاوره د ریفرانډم پر بنسټ نده بیله شوې، ریفرانډم کې باید دواړه غاړه ولسونه برخه واخلي.

۶- د هند تاریخپوه کلدیپ نیرپخپل کتاب Behind the lines کې ویلی چې په ۱۹۶۵- ۱۹۷۱ کلونوپه مهال دپاکستان او هند په جګړوکې هنددافغانستان له پاچا محمد ظاهر شاه نه وغوښتل چې تاسو لوی افغانستان جوړ کړئ او موږ به لوې هند ،خو ظاهر شاه و نه منله.

۷- نیویارک ټایمزپه ۱۹۶۲کې کښلي دي چې ظاهرشاه له کنېډي نه وغوښتل چې پاکستان سره دډیورنډ کرښې موضوع په حل کې مرسته وکړي.

ددې ټولوڅرګندونوموخه داده ، چې دډیورنډکرښه نړیوال حقوقي اوقانوني ارزښت نه لري اوبیله شوې خاوره دافغانستان دجغرافيې برخه ده .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

حقيقت دادی چي له دويم نړيوالي جګړې وروسته دبريتانياصدراعظم چرچل اودهندوايسراې لارډبټن ووېل موږ دهند نيمي وچي يوې ټوټي ځمکي ته ضرورت لرو... نوبيا يې پاکستان دهند اوافغانستان په خاوره جوړ کړ .

ډيورنډکرښې په تړاو ،

د محمد رضا شاه مينځګړيتوب

د ايران په مينځګړيتوب د ډاکټر محمد يوسف د صدارت په مهال سيد قاسم رشتيا چي نوراحمد اعتمادي هم ورسره په سفر کي ملګری و،ايران ته لاړل.

د پاکستان له لوري د ذوالفقار علي بوټو، چي هغه مهال د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت چارواکی وه، له يوه پلاوي سره ايران ته ورسيد.

(سره ددې چي په ملګرو ملتونو کي د معين او نا معين تړونونو په نوم اسناد شته او ډيورنډ په نامعين رديف کي دی )

په تهران کي د ايران د بهرنيو چارو وزارت د اجندا په سر د دواړو غاړو له استازو سره خبرې اترې وکړې.

په اجندا کي د پښتونستان مساله هم وه، خو پاکستان دايران نه خپل پلاوی وغوښت او خبرې و نه شوې.

موږ کتابونه جوړ کړل او کتابونو موږ جوړ کړو... دتاريخ ددغه اصل له مخي ذولفقارعلي بوټوفکر کاوه ،چي زما دغه تېښته به ما له تاريخ نه پټ کړي،خوتاريخ دغه خبره پخپله حافظه کي خوندي کړې ده.

د ډيورنډ کرښي په تړاويوبشپړانځور

د افغانستان د اوسنيو پولو په ټاکلو کي د روسانو او انګريزانو استعماري موخي ټاکوونکي وې.

۱. د ډيورنډ د موافقه ليک په برخه کي هيڅ ډول بشري، جغرافيوي او نړيوال حقوقي ارزښتونه په پام کي نه دي نيول شوي.

۲. شاه محمود خان په ۱۹۴۷ کال د جولای په ۳۱ د بريتاني د بهرنيو چارو وزير ته د خپل حکومت دريځ وړاندې کړ.

۳. د پاکستان له جوړيدو وروسته افغان استازی نجيب الله "توروايانا" له جناح سره يوه موافقه وکړه ، ولي له جناح نه وروسته نوی ولسمشر خواجه نظام الدين دغه تړون لغوه کړ.

۴. د افغانستان د ۷ دورې ولسي جرګې ۱۹۴۹ کال د ډيورنډ تړون لغوه کړ.

۵. کوم تړون چي لاسليک کيږي بايد:

الف: بايد دواړه غاړي د هيوادونو په کچه باصلاحيته استازی وي.

ب: په ملي او نړيوالو قوانينو برابر وي.

ج: نړيوال تړونونه بايد په پا رلمان کي تصويب شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

۶. که افغانستان کي پارلمان نه وو، خو لويه جرگه خو وه...

۷. آيا ډيورنډ موافقه ليک کي له انګريزي متن سره مل نقشه لاسليک شوېده؟ څکه نده شوي چي امير ملاحظات درلودل.

۸. ددغه موافقه ليک پر وړاندي د خلکو غبرگون...

۹. افغانستان يو تحت الحمايه هېواد وو چي کورنی چارې خپله اداره کولي او بهرنی چارې د استعماري هېواد له خوا اداره کېدي.

۱۰. د ويانا نړيوال کنفرانس په ۶ ماده کي يوازې يو خپلواک هېواد تړون د لاسليک کولو صلاحيت لري. نه تحت الحمايه هېواد.

مثال: د کمبوديا هېواد په ۱۹۹۱ کال د فرانسي تحت الحمايه وو، فرانسي د حامي دولت په توګه له تايلنډ سره تړون لاسليک کړ.

۱۱. بريتانيا او تزاري روسي په ۱۸۷۳، ۱۸۷۷ – ۱۸۹۵ کلونو کي د افغانستان د پولو په ټاکنه کي ټاکونکی رول درلود.

۱۲. د ۱۹۶۹ کال د کنوانسيون په ۵۳ ماده کي راغلي هغه تړونونه چي د نړيوالو حقوقو سره سم ندي قانوني ارزښت نلري.

۱۳. هغه څوک چي موافقه لاسليک کوي د هغه ازاده اراده.

۱۴. په ۱۹۶۹ کال د کنواسيون په ۵۰ ماده کي راغلي دي که چېري د موافقي د لاسليک کوونکو د آزادي ارادي سلبول رامنځته شي د تړون اصوليت تر سوال لاندي راځي.

۱۵. د ۱۸ لکو روپيو ورکول په کومه معنا ده؟ ددي څمکي داجاري ،که دځمکي دماليي اوټکس په معنا ؟؟

۱۶. د کنوانسيون په ۵۱ ماده کي راغلي کوم تړونونه چي د ګواښ له مخي لاسليک شوې وې ارزښت نه لري.

۱۷. په ۵۲ ماده کي بيا دغه تړونونه د منشور له مخي لغوه اعلان شويدي.

۱۸. د مثال په ډول: په ۱۹۰۵ کال جاپان کوريايي استازی دېته اړ کړ چي يو تحت الحمايي تړون لاسليک کړي په ۱۹۴۵ کال د جاپان له ماتي وروسته تړون هم باطل شو.

۱۹. په ۱۹۳۹ کال د مارچ په ۱۵ د چکوسلواکيا ولسمشر "هاشا" د هټلر تر فشار لاندې د تحت الحمايه تړون له مخي "بوهم" المان ته وسپاره، د المان له ماتي وروسته تړون له منځه لاړ.

۲۰. په ۱۹۶۱ کال کمبوديا د فرانسي تحت الحمايه وه جاپان په فرانسي فشار راووړ يو تړون پري لاسليک کړ.

۲۱. د ويانا کنوانسيون (۱۸۷۸ کال) په ۱۵ ماده کي په عادي حالاتو کي يو دولت د بل دولت په ځای ونيسي، د هغه د ميراث مستحق ګڼل کېږي ،خوبريتانيا يودولت نه و ،بلکي يواستعماري هېواد و، چي اروپا نه راغلی واوپه اسيا کي دمستعمروچبتن و .

هغه وخت دپاکستان په نوم کوم هېواد اودولت موجود نه و ، څکه پاکستان په عادي حالت کي منځته ندی راغلی ، بلکي جوړ شوی دی ، د مخه يې فزيکي وجود نه درلود اوبريتانيا يوه نوې جغرافيه په غضب ورته رامينځته کړه، يعني دهند اوافغانستان غوندې کوم دولت نه و .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۲۲. کله چي د تړون يو اړخ له صحنې څخه ووځي تړون باطل کيږي،نوځکه انګليس دهند نيمه وچه پرېښوده اوډيورنډ موافقه ليک هم باطل شو،که څه هم په لومړي سرکي هم ، کوم حقوقي اوتاريخي ارزښت نه درلود .

نوټ: په ځنو تړونونو کي يو هېواد د ضمانت په توګه د تړون د دواړو غاړو ضمانت کوي، خو ډيورنډ موافقه ليک کي شتون نلري.

د ډيورنډ SOP ډرامه

نن ټکی آسيا (۳ شنبه وږي ۸ مه ۱۳۹۵ کال) ، « د ساحوي همغږۍ په محل کې د نويو پوستو جوړول او د دفاعي تاسيساتو پراخول ، وا ردمخه اطلاع او دواړو خواوو د همغږۍ په اساس ترسره کېږي.»

دا د افغانستان او پاکستان ترمنځ د SOP تړون د شلمي مادې متن دی، چې په ډيورنډ کرښه د تاسيساتو د هوکړي په اړه د دواړو لوريو له خوا هوکړه شويده چي د افغانستان له لوري حنيف اتمر لاسليک کړيدی.

دي تړون په ۲۰ ماده کي راغلي دي:

۲۰ ماده نوي تاسيسات چي پورته يي يادونه وشوه، ورپسي "۲۱" مه ماده کي لولو: "د شته تاسيساتو بيا رغاونه او پراختيا :

دغه عمليه يوه اونی وړاندې د اطلاع په صورت کي د دواړو خواو ترمنځ صورت نيسي.

دا عمليه د حفاظت او ګډو ګټو په برخه کي وي، مخالفت نه ورسره کېږي، خو بيا رغاونه او توسعه بايد د دواړو خواو جغرافيوي حاکميت نقض نکړي. ( د ډيورنډ د کرښي نوم ندی اخستل شوی. سنګروال)

نو ځکه خو پر همدې بنسټ سرتاج عزيز ووېل: دوئ پخپله خاوره کي تاسيسات کوي د چا اجازی ته اړ ندي.

د حکمت کرزي په مشرۍ چي کوم پلاوی پاکستان ته تللی وه، ووېل: په ډيورنډ تاسيسات د همدغه sop تړون له مخي جوړيږي. دا هوکړه له پاکستاني چارواکو سره شويده.

نوټ: فاروق وردګ ووېل چي پدي تړاو ۷۰ ميلونه ډالر اخستل شوي دي !؟

که څه هم دفاروق وردګ پښه هم پخپله پايځه کي بنده وه اوله دې وېرې نه چي اشرف غني دخيالي ښوونځيو خبره وخېږي ،نو هغه يي په دې وګواښه !!

دډيورنډ په تړاو،حنيف اتمر...

داسي انګېرنه وه چي د ملي وحد ت حکومت پاکستان سره داسي يوه موافقه لاسليک کړي چي ګني د ډيورنډ کرښي ته ګواښ دی...( افسوس ، تاريخ ګټل د ډارنوخلکو کار ندی، هر سياست پوه بايد خپل ژوند په ځو برخو ووېشي، خوتش په نوم دملي يووالي حکومت ددي جوګه نه وو.)

ولي په دي برخه کي وروسته ځرګنده شوه چي دغه موافقه ليک پدي مانا وه چي که پاکستان تاسيسات جوړوي بايد له صفري کرښي سل متره لرې وي.

کله چي اشرف غني نوی واک ته ورسېد پاکستان کوښښ وکړ چي لاس پرې تېر کړي او داسي يو سند پرې لاسليک کړي چي د ډيورنډ کرښي ته د اوږو پزه کېږدي.

خو کله چي کرزي ددي موضوع له مخې پلو پورته کړ اواشرف غني تر شاشو، نو پاکستان هم د سردار داودخان په څېر له هغه سره چلند وکړ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

همدا لامل وه چې اتمر له پاکستانی جنرال عامر سره د (sop) تړون لاسليک کړ چې له صفري نقطې نه سل متره شاته تاسيسات جوړوي.

دديورنډ له قوله ، په ۱۹۰۵ کال د يوې سرچينې له مخې چې يو ناڅرګنده لاسوند دی ويل شويدي چې هغه اميرحبيب الله ته ويلې ول چې له مرزي يا صفري برخې نه ۸ کيلومتر لرې تاسيسات بايد جوړ شي.

امريکا او کاناډا هم خپل منځې دا ډول ستونزې لري خو د يوه مديريت له مخې کنترول کړيدي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ